فتح العزیز
فی
جواز التعویذ ویلیه
اِنباءالاعمی
لجواز
اخذالاجرةعلی الرقی
تالیف
ابی محموداحمد وحسین احمد السیدعبدالسلام هاشمی الحنفی ولایت هلمند والسوالی خانشین فعلاَ ً کرم سیر صفار

وقف

فی سبیل الله

دمیلاویدوځای

افغانستان ولایت هلمند ولسوالي کرمسیر ناحیه صفارقریه سید اباد

خانقاء هاشمیه فیض العام

بسم الله الرحمن الرحيم
الحمدالله الذي نزل الفرقان شفاءورحمة للمؤمنين
والصلوة والسلام على سيدالانبياءوالمرسلين
وعلى اله واصحابه اجمعين
امابعد

ټول لوستونکي بايددي ټکي ته متوجه وي چه قرآن يو داسي معززکتاب دي چه دظاهري اوباطني امراضوالپاره شفاءاودوادى نولدي وجهي داسلافودادستوراوطريقه وه چه دخپلوحوائيجواوامراضودرفعي دپاره به يى قرآن وسيله اوذريعه ګرځوله په روان عصرکي ډيرناالهله کسان هم سته چه تعويذاودم شرک بولي اګرکه داتعويذدقرآن څخه هم وي.ليکن که حق ته نظر وکړونوداخبره د منکرينوپه حماقت اوناپوهي دلالت کوي بلکه دوى دقران اوسنت څخه ناخبره دي ځکه دوى پدي اعتراف کوى چه دسردرد.تبه اوداسى نوروظاهرى امراضودپاره انګريزى دواياني استعماله ول جائزاوروادي اودى ته هيڅوک شرک نه وائى اونه ممانعت ورڅخه کوي.نوقرآن خوبيخي دټولومسلمانانودپاره شفاءاو دواده[ساءَمَايَحكُمُونَ]

که ددي منکرينوڅخه پوښتنه وسي چه آياانګريزي دواستعماله ول دغيرالله څخه امدادغوښتل ندي نوضروربه جواب درکي چه انګريزي دواخويوسبب دي دمريض دجوړيدودپاره نوبايدبياورته ووايوچه تعويذاودم

خـوهم يوسـبب دي دمـرض دختميـدودپاره جـوړونکی اوتـاثيراچونکي خوتنهايوالله(جل جلاله)دي.

که دقرآن اياتونه اومضامين په ښه اوژورفکرسره مطالعه کړونووبـه ليدل سـي چـه قـرآن دظـاهري اوبـاطني امراضـودختمولودپاره يـوه لويـه دواواکسيراعظم دي.

قرآن داموضوع دلمرپشان روښانه بيانکړی ده اودائی په صراحت سره ويلي دي چه قرآن دظاهري اوباطني امراضودپاره دواده .

مورغواړوچه داموضوع دقرآن،اوسنت اوداسلافوپه اثاروروښانه کړوددي ديـاره چـه بعضـی سـاده خيالـه وړونـه ددي منکرينوپـه ويناګانودوکـه نسـي اوخپل ځانونـه ددغـي زهرجنـي عقيدي څخـه وسـاتي ،اودقرآن اوسنت پـه رڼاکي خپله صحي داهل سنت والجماعت عقيده وپيژنـي اوعمل ورباندي وکړي

(١)وننزل من القرآن ماهوشفاءورحمة للمؤمنين)سورة بني اسرائيل ايات (٢٨)ترجمـه:مورقرآن نازلـه ووچـه داقرآن دمؤمينانودپاره شفاء وي اوهم رحمت:دتفسيرقرطبی صاحب ددی ايات په تفسيرکي داسی وائی(الثاني انه شفاءمن الامراض الظاهرة بالرقی ولتعوذونحو)

(تفسيرقرطبی)ج١٠ص٢٧٥

اوامام اسماعيل حقي وائى (واعلم ان القرآن شفاءللمرض الجسماني) (تفسيرروح البيان)ج٥ص٢٣١وايضًا(تفسيرروح المعاني)ج١٥ص ٢٣١وص ١٨٥

(٢)قل هوللذين امنواهدًى وشفاء)سورة حم سجده ايات(٤٣) ترجمه: اى پيغمبره مؤمنانوته ووايه چه داقرآن هدايت اوشفاء دي.

(٣)يايهاالناس قدجاءتكم موعظة من ربكم وشفاءلما فى الصدور)صورةيونس ايات ٥٧

ترجمه:اى خلكوتاسوته يوعظيم الشان نصيحت دالله(جل جلاله)له طرفه راغلي دى اوداقران شفاءدى دهغه مرضودپاره كوم چه په سينوكي دي يعني كفرالحادنفاق،،،

(باب ماءفی اثبات لتعویذعن الصحابة رضی الله عنهم)

عن عمربن شعیب عن ابیه عن جده ان رسول الله صلی الله علیه وسلم:قال اذافزع احدکم فی النوم فلیقل اعوذبکلمات الله التامات من غضبه وعقابه وشرعباده ومن همزات الشیاطین وان یحضرون فانها لن تضره وکان عبدالله بن عمرویعلمها من بلغ من ولده ومن لم یبلغ کتبهافی صکٍ ثم علقها فی عنقه(سنن ابی داؤد)ج۲ص ۱۸۷ رقم الحدیث ۳۸۹۷(مسنداحمد)ج۳ص۵۵۰رقم۶۸۰۹(مستدرک)ج۱ص ۴۷۰رقم ۲۰۲۶(مصنف ابن ابی شیبة)ج۵ص۴۳۹کتاب الطب (تفسیرابن کثیر)ج۴ص۴۹۲رقم۴۸۱۳(تفسیرکبیر)ج۱ص۷۸ (ترمذی)ج۲ص۱۹۲ (الترغیب والترهیب)ج ۲ص۳۰۲(زادالمعاد) ج۳ص۸۰۸(تکمله فتح الملهم)ج۴ص۳۱۷ (مرقاة المفاتیح)ج ۵ص ۳۳۳رقم ۲۴۷۷ (الاذکارللامام نووي)ص ۱۱۲ (عمل الیوم والیلة لابن سني)ص۲۴۴

ترجمه:حضرت عمر ابن شعیب روایت ذکرکوی چه رسول الله صلی الله علیه واله وسلم وئل چه هرکله په تاسوکی څوک په خوب کی بیریږی نودغه کلمات دی وایي بیاداپیریان(جنیات)هیڅ کله ضررنسی رسولی هغه دادی (اعوذبکلمات الله التامات من غضبه وعقابه وشرعباده ومن همزات الشیاطین وان یحضرون)اوحضرت عبدالله بن عمرو(رض)به خپلولویانو(غټانو)اولادوته دادعاءوریادوله اوکوچنیانو بچانوته به یی

تعویذکړل اوپه غاړه به یی ورکړله اودغه رقم حضرت عمر(رض)ته دروم پاچاحال وکی چه دسرددردعلاج راواستوه حضرت عمر(رض)دسرخولی(رخچنه)ورواستوله چه کله به ئي پرسرکړه دسردردبه ئی بنه سو اوچه دسر څخه به ئی لیری کړه له بیرته به ئی پرسردردسوچه خولی(رخچنه)ئی خلاصه کړله په هغه کی یو کاغذوچه بسم الله په کښی نوشته وه(تفسیرکبیر ج۱ ص۱۵۵) تفسیرروح البیان ج۱ص۱۹) فتح المعین ج۱ص۱۳) المواهب اللدنیه للبیجوری ص۳) ویحکی ان قیصر ملک الروم کتب الی عمر بن خطاب (رض)ان بی صداعافانفذ الی شیئامن الدواءفأنفذ الیه قلنسوة فکان اذاوضعهاعلی راسه سکن مابه من الصداع واذا ارفع عن رأسه عاد الصداع الیه فتعجب من ذالک فامر بفتحهاففتشت فاذافیه رقعة مکتوبة فیهابسم الله الرحمن الرحیم (تفسیرکبیر ج۱ص۱۵۵) تفسیرروح البیان ج۱ ص۱۹) فتح المعین ج۱ص۱۳) المواهب اللدنیه للبیجوری ص۳) دادی امیر المومنین حضرت عمر(رض)هم دسردردتعویذکړی دی نوددی اثرڅخه ده حضرت عمر(رض)داهم معلومه سوه چه نبی کریم علیه السلام هم تعویذجائزبللی دی که چیری جوازئی نه درلودی نوحضرت عمر(رض)څنګه نوشته کوی اودغه رقم بی بی عائشة (رض)وائي چه تعویذ د قران دایت څخه وی نود مریضی څخه مخکی اوورسته په غاړه کول جائز اوروادی(لابأس بتعلیق التعویذ من القران قبل نزول البلاء وبعدنزول البلاء)

کنزالعمال ج۱ص۳۱بیروت) اودغه رقم امام الوسی(رح) اوامام قرطبی(رح)پخپلوتفاسیروکی لیکلی دی او وائی :قال مالک لابأس بتعلیق الکتب التی فیها السماء الله تعالی علی اعناق المرضی علی وجه التبرک بهاء) تفسیرروح المعانی ج۱۵ ص۱۸۵ سورة الاسراءایات۸۲) تفسیرقرطبی ج۱۰ص۱۷۸) ترجمه:وائی حضرت امام مالک(رح)وائی چه دمریض په غاړه هغه تعویذ ورکول ده تبرک په حیث چه دخدای جل جلاله نومان پکښی وی جائز دی باک نه لری.(تفسیرروح المعانی ج۱۵ص۱۵۸(تفسیرقرطبی ج۱۰ص۱۷۸) اودغه رقم علامه الوسی (رح)اوامام قرطبی(رح)په خپلوتفاسیروکی په بل ځای کی لیکی اووائی ده سعیدبن مثیب څخه پوښتنه وسوه چه تعویذپغاړه کول څنګه دی سعیدبن مثیب په جواب کی ورته وویل چه په پوښوکی وی اوساتنه ئی کیږی جائزدی پروانلري (سئل ابن المثیب عن التعویذأیعلق قال:اذاکان فی قصبةً اورقعة یحرزفلابأس به)(تفسیرروح المعانی ج۱۵ص۱۵۸)تفسیرقرطبی ج۱۰ ص۲۸۰)مصنف ابن ابی شیبة ج۵ص۴۳۹کتاب الطب اودغه رقم په تفسیرروح المعانی امام الوسی(رح)لیکی وائی چه امام باقر(رح) به کوچنیانوته دتعویذورپه غاړه کولو اجازه ورکوله مطلق بغیرڅه دقید اوشرط څخه (ورخصی الباقرفی التعویذ تعلق علی الصبیان مطلق)تفسیرروح المعانی ج۱۵ص۱۸۵)تفسیرقرطبی ج۱۰ص۲۸۰)مصنف ابن ابی شیبةج۵ص۴۴۰)اوامام ضحاک(رح)وائی

چه دقران اياتونه په غاړه کول باک نه لری چه دجماعو اواوداسه مات په وخت کی لیری کړی(حدثناابوبکرقال حدثنا اسحاق الأزرق عن جوبیرعن الضحاق لم یکن یری بأساان یعلق الرجل الشئ من کتاب الله اذاوضعه عندالغسل وعندالغائط (مصنف ابن ابی شیبة ج۵ص۴۴۰)تفسیرقرطبی ج۱۰ص۲۸۰)اودغه رقم ابن سیرین (رح)وائی چه دقران اياتونه په غاړه کول ده لوی اوکوچنی دپاره مطلق پروانه لری (تفسیرروح المعانی ج۱۵ص۱۸۵)وکان ابن سیرین لایری بأسابالشیئ من القران یعلقه الانسان کبیراوصغیرا مطلق(تفسیرروح المعانی ج۱۵ ص۱۸۵)او په مصنف ابن ابی شیبة کی حدیث نقله وی چه ده عبیدالله بن عبدالله بن عمررضی الله عنهما په مټ(لاس)باندی تعویذ تړلی وو(عن ایوب أنه رآی فی عضدعبیدالله بن عبدالله بن عمر(رض)خیطا(مصنف ابن ابی شیبه)ج۵ص۴۳۹ کتاب الطب) اودغه رقم په مصنف ابن ابی شیبة کی وائی چه حضرت عطاءابن ابی رباح ویلی دی که دقران کریم ایات نوشته سی اوتعویذ ئی کړی په غاړه ئی کړی نوداجائز دی(عن لیث عن عطاءقال لابأس ان یعلق القران)(مصنف ابن ابی شیبة ج۵ص۴۴۰) اودغه رقم امام دارمی پخپل سنن کی حدیث نقل کوی اووائی چه دحضرت عطاء(رح)څخه پوښتنه وسوه چه دحائضي ښځي تعویذ پغاړه کول څه حکم دي ده مبارک په جواب کی وویل که چیري داتعویذ په څرمن کي وی نودابنځه دي کښیږدی اوکه په سپین زروکي وي نوددی خوښه ده که ئی

ايـــږدی اوکـــه ئـــی پـــه غـــاړه کـــوي (ســـنن دارمـــي)ج ۱ص۱۸۲رقـم۱۱۷۵(أخبرنـايعلى بـن عبيد،ثناعبـدالملک ،عـن عطـاء،في المرأة الحائض في عنقها لتعويذأولكتاب :قال:ان كـان فـي أديم فلتنزعـه،وان كان في قصبة مصـاغة من فضـة فلابـأس ان شـاءت وضـعت وان شـاءت لـم تفعل(ســـنن دارمـــي)ج۱ص۱۸۲رقـــم۱۱۷۵(مصـــنف ابـــن ابـــی شيبة)ج۵ص۴۳۹

(دفقهاؤنظرده تعويذپه اړه)

قـال الشيخ عبـدالقادرالجيلانی رضـی الله عنـه فـی الغنية:فصـل:ويكتب للمحموم ويعلـق عليـه مـاروی عن الامـام أحمدبن حنبل رحمـه الله أنـه قال:حممت فكتب لی من الحمی بسم الله الرحمن الرحيم بسم الله وبـالله محمدرسـول الله(يـا نـا ركـوني بردًاوسـلاماًعلى ابـراهيم) وارادوبـه كيدًافجعلناهم الاخسرين)(غنية الطالبين)ج۱ص۹۳

شيخ عبدالقادرجيلانی محبوب صبحانی(رضـی الله عنـه)مبارک پخپل کتـاب :غنية الطالبين:كي ليكی چه تعويذليكل اوپه غاړه كول دادامام محمد(رحمـه الله)څخه منقول دي چـه امـام محمد(رحمـه الله)وائـی چـه تعويذپـه غـاړه كـول جائزدي(غنية الطالبين)ج۱ص۹۳

اودغـه رقـم ابـن قـيم جـوزی چـه دابـن تيميـه دمشهوروشـاګردانوڅخه دي اودغيرمقلـدينو پـه نزديومسـلم عـالم دی دی وائـی چـه امـام محمد(رحمـه الله)څخـه دتعويـذپغاړه كولوپحقلـه پوښـتنه وسـوه چـه دتكليـف څخـه ورسـته تعويذ پغاړه كول څنګه دی جوازلری كياامام محمد(رحمه الله)په جواب کـی ورته وويل چه زه اميد لرم چه داجائزدي.

خلال وائی چه ماته دامام احمد(رحمه الله)زوي عبدالله وئیلی دي چه زماپلاربه خلګوته دپاره دبیري اوتبي تعویذنوشته کول چه څوک به بیری دي اویابه ئی تبی کیدلی (فتاوی دارالعلوم زکریا)ج۱ص۴۳۹و۴۴۱

وقال احمدوقد سئل عن التمائم تعلق بعدنزولبلاءقال ارجوان لایکون به بأ س :قال خلال وحدثنا عبدالله ابن احمد(رحمه الله)قال رأئیت ابي یکتب التعویذ للذي یفزع والحمی بعدنزول البلاء(فتاوی دارالعلوم زکریا)ج۱ص ۴۳۹و۴۴۱

اودغه رقم ملا علی القاری(رح)په مرقاة المفاتیح کي لیکي (وهذاأصل فی تعلیق التعویذ التي فیها اسماءالله تعالی)(مرقاة المفاتیح)ج ۵ ص۳۳۳ رقم الحدیث ۲۴۷۷ یعني داثابته سوله چه تعویذ پغاړه کړی چه هغه تعویذ کي اسماءالله تعالی وی اوشرکی الفاظ نوی(مرقاة)

اودغه رقم شیخ الاسلام العلامه الفقیه سراج الدین ابومحمدعلی بن عثمان بن محمد التیمي الاوسی الحنفي المتوفی (۵۶۹ ه)یخپله فتوای السراجیة کي لیکي (تعلیق لتعویذ لابأ س به لکن ینزعه عندالخلاء)(الفتاوی السراجیة)ص۳۳۱

اودغه رقم شیخ الهندشیخ عبدالحق محدث دهلوی(رح) په اشعة اللمعات شرح دمشکاة کی لیکی چه تعویذ پغاړه اومته(لاس)کول صحی دی که څه هم بعضوعلماؤخبره پکښي کړی ده خود تعویذدثبوت سند دحضرت ابن عمر(رض) دحدیث څخه ثابت دی چه ابن عمر(رض)به خپلولوی اولادوته ده بیخوبي د م ورزده کوی اوکوچني اولادوته به ئی تعویذورنوشته کوی پغاړه به ئی ورکوي (اشعة اللمعات)ج۳ص۶۵۲ (تعویذ درگردن وبستن د ربازوونیزبعضی علماء سخن ست امأانراسندی ازحدیث عبدالله بن عمروست که انحضرت اورادعائی برای دفع بیخوابی

أموختـه بـودوی رضـی الله اولاد را کـه کـلان بودنـد بیاموخـت وخـردان را نوشته درگرد ن أویخت(اشعة اللمعات)ج۳ص۶۵۲)اودغه رقم شاه ولـی الله محدث دهلوی (رح)پخپل کتاب (شفاءالعلیل ترجمه القول الجمیل)کی لیکـی اووائی کـه دیـوی ښځی اولاد نـه کیږی دغـه ایـات مبـارک دی پـه زعفران اوګل ګلاب باندی ولیکی ښځه دی پـه غاړه کـی (وللعقیمـة یکتـب هذه الایـة فـی رق الغـزال بـالزعفران ومـاءورد ثـم یعلـق فـی عنقهـا)القول الجمیـل ص۱۶۲) اودغه رقم شاه ولـی والله رحمـة الله تعـالی علیـه پـه بل ځای کـی لیکـی وائـي چـه دغـه تعویـذ دپـاره ده تبـی دی داتعویـذ دی نوشـته کړی پـه مټ(لاس) دی وتړی ژرترژره به الله شفاء ورکړی

(قـال فـی القـول الجمیل)رقیـة المحمـوم ان یکتـب ویعلـق علـی عضـده یبرأسـریعاًباذن الله تعـالی (القـول الجمیـل ص۱۷۶)اودغـه رقـم علامـه ابـن عابدین شامی (رح)په ردالمحتارکی وائی چه په هغه تعویذ کی چه شرکی الفاظ نوی اوپه عربی سره نوشته سی اوکه څه هم جنب اوحائضـه ښځه پـه غاړه یامټ (لاس) وتړی باک نه لری جائز دی

(ولابـاس بـان یشـدالجنب والحـائض التعاویـذ علـی العضـدااذاکانت ملفوفة.....لابأس بالمعوذات اذاکتب فیها القران اواسماءالله تعالی وانماتکره العوذةاذاکانـت بیغیرلسـان العـرب (ردالمحتـارج ۵ص۲۳۲ بیروت)(فتـاوی الاصلیه ج۲ص۴۰۸)

اودغه رقم میافقیرالله(رح)په قطب الارشادکی دزاهدی شرح القدوری څخه نقل کوی اووائی چه تعویذ په پوښ کی وی جنب اوحائضـه ښځه ئـی پلاس وتړی جائز دی باک نه لری (وفی الذاهدی شرح القدوری لابأس بان یشد الجنب والحائض التعاویذ علی العضداذاکانت مکفوفة

(قطب الارشادص۶۹)اودغسی نورئی هم ده تعویذه په باب ډیرښه مفصل بحث کړی دی شائقین دی مراجعه ورته وکړي

اودغه رقم دمفتی عزیز الحمن(رح) څخه یوکس پوښتنه کوی چه یو ملا تعویذ ونه نوشته کوی ددغسی ملا امامت څنګه دی مفتی صاحب مبارک په جواب کی ورته وائی چه څابنت تعویذ کول دقران په ایتوسره اوماثوره دعاګانوسره درست دی؛په دی کی هم څه ګناه نسته اوپه دی وجهی سره دهغه په امامت کی څه کراهت نسته اولمونځ پسی صحیح دی (فتاوی دارالعلوم دیوبند ج۳ ص۱۵۸)

اودغه رقم مفتی محمدفرید(رح)څخه سوال کیږی ده تعویذ په جوازاونه جوازکی

سوال زمور په سکول کی یوماسټرصاحب ډاکټر عثمانی پیروکاردی هغه وائی چه (من علق التميمة فقداشرک)چاچه تعویذ پغاړه کړوهغه شرک وکړنودقران اوسنت په رنړاکی ددی څه حکم دی

(الجواب)تعویذ لیکل اوپه غاړه کول جائز دی.

(کمافی ابوداؤدج۲ص۵۴۳ عن عمربن شعیب عن ابیه عن جده ان رسول الله صلی الله علیه وسلم کان یعلمهم من الفزع کلمات؛اعوذ بکلمات الله التامات الی اخرها..... وکان عبدالله بن عمرویعلمهامن عقل من بنیه ومن لم یعقل کتبه فاعلقه علیه)(فتاوی فریدیة ج۱ص۴۱۵)

اودغه رقم مفتی دیارشیخ القران والحدیث محمد تقی عثمانی په تکمله کی دفتح الملهم لیکی چه تعویذ لیکل اوپغاړه کول اوڅابنت لیکل په مریض

څښل داده صحابه ؤاوتابعينوتعامل باندی سويدی اوددوی په اقوالوثابت عمل دی

(أماكتابة المعوذات وتعليقهافی الصبيان والمرضی؛اوكتابتهاوسقی مدادهاللمريض؛فقدثبت عن عدة من الصحابة والتابيعين رضی الله عنهم.

وقداخرج ابن ابی شيبة فی مصنفه ٨:٣٩ عن عمروبن شعيب عن أبيه؛عن جده؛قال:قال رسول الله صلی الله عليه وسلم:اذافزع أحدكم في نومه فليقل بسم الله؛اعوذ بكلمات الله التامات من غضبه وسوءعقابه،ومن شرعباده،ومن شرالشيطان وأن يحضرون.فكان عبدالله(يعنی ابن عمررضی الله عنه)يعلمها ولده،من آدرک منهم،ومن لم يدرک كتبها وعلقهاعليه.(تكمله فتح الملهم ج۴ص۳۱۷)

نو اوس هغه نام نهاده ديوبنديانوته وايم اوپوښتنه ځنی کوم دغه دصحابه وعمل اوده تابعينواوفقهاؤاقوال اواعمال دين اومذهب دی اوکه نه اوکه دين دی نوبياولی شرک اوحرام ورته واياست،دتعجب خبره خودادهم ده چه ځانوته ديوبنديان لاهم واياست بيا په خطبواومجلسوکی پرتعو يذوبد اورد واياست اوسره له دی چه علماءديوبندپه تعويذوکی مستقل کتابونه لری لکن هغه هم بيانه منی هسی ددیوبند په جامه کی وهابيانواولامذهبوته خذ مت کوی.

(فائده) هرتعويذګراوساحرکاهن ته هم تګ نه دی روامثلاچی پدااوس عصرکی په بعضي ځايوکی داسی کسان فيداسوی دي چه په نامه ده شيخ ياشيخی دي چه زياتره ساده مزاجه انسانان ورځی پدی نيت چه دغه شيخ ياشيخه پوتی ورته معلوميږي نوزمونږورکه يامريضئ معلومه وي،نوبيا هغه شيخ ياشيخه يوځه دشکراني په نامه شی ځنی واخلی بيا داشيخ ياشيخه ورته ګوياسی چی پرتاډيرسخت تعويذونه سويدی فلان کی رنګ بنځي

یانارینه دربانـدی کړی دي نوبیا ددغه کس وزړه تـه هم ورولـویږی چه رشتیاهم دغسی ده اولوی جنجال ته ئی وراچوی اویقین ئی سی چی شیخ صاحب رشتیا راته ووئیل ،نوپداسی خبورویقین کول اوداسی کسانو ته تګ کـول حـرام اوګنـاه ده پـه مسـندامام ابـی یعلـی الموصـلی اوامـام حـاکم پـه مستدرک کی حدیث نقل کوی چه داسی کسانو ته تګ کفر دی،اوامام مسلم اوامـام بیهقـی بیـا حـدیث رانقـل کـوی وائـی چـه ددغـه نفرڅلوینـت ورځـی لمونځ الله تعالی نه قبلوی

حدثناعبدالرحمن بن سلام حدثنا ابراهيم بن طهمان ،عن أبی اسحاق،عن هبيرة بن يريم،عن عبدالله أنه قال:من أتی عرافااوساحرآوکاهنافسأله فصدقه بمايقول،فقـد کفربمـاأنزل علـی محمدصـلی الله عليـه وسـلم))رجالـه ثقات(مسـندأبی يعلـی)ج۷ص۴۷۵رقـم۵۴۰۸)(مسـتدرک حـاکم ج۱ص۲۶رقم۱۵)

قال الامام مسلم:حدثنامحمدبن المثنی الغزی،حدثنا يحی يعنی ابن سعيد،عن عبيدالله،عن نـافع،عن صـفية ،عن بعض ازواج النبی صلی الله عليه واله وسلم عن النبی صلی الله عليه وسلم قال:من أتی عرافافساله عن شيئ لم تقبل لـه صـلاة أربعين ليلـة (صـحيح مسلم)ج۲ص۲۳۳)سنن الکبری للبيهقی ج۸ص۳۵۱رقم ۶۵۱۰)مرقـاة المفـاتيح ج۸ص۳۶۲رقم ۴۵۹۵)مسندابی يعلی الموصلی ج۷ص۴۷۵رقم ۵۴۰۸)

(سوال)په ابجداوهندسه سره تعویذ لیکل څه حکم لری

(جواب)احسن الفتاوی جلد۸ص۱۵۶)کی لیکی چه په ابجد سره تعویذ لیکل جائزدی ځکه چه لغت مفهوم دي (احسن الفتاوی)اوامـام غزالـي(رح)هم پـه خپل تعویذات کي په ابجدسره تعویذونه لیکلي دي

اوشاه انورشاه کشمیری (رح)هم په مجربات کشمیری کی لیکلی دی
اوحاکیم الامت اشرف علی تها نوی(رح)هم په اعمال قرآني کي ليکلي دي
نودادوي عمل دليل دجوازدي

اِنباءالاعمي
بجواز
اخذالاجرة على الرقى
په دم اجرت اخستل روادى

(عن)خارجة بن الصلت انه اتى النبي صلى الله عليه وسلم:فلما رجع مر باعرابي مجنون موثوق فى الحد يد فقال بعضهم اعندک شيئ تداوية فان صاحبكم جاء بخيرفرقيته بام القرآن ثلاثة ايام مرتين فبرأفاعطوني مأة شاة فلما قد مت اتيت النبى (صلى الله عليه وسلم)فاخبرته فقال اقلت غير هذا قلت لا.قال كلها بسم الله فلعمري لئن اكلت برقية باطل لقد اكلت برقية حق (مصنف ابن ابى شيبة)ج٥ص٤٤٥(مسنداحمد)ج١٠ص٣١٩رقم ٢١٨٣٥ (صحيح ابن حبان)ج ١ص ٥٣٢رقم١٢٥٢(ابوداود)ج٢ص ١٨٨رقم ٣٩٠٠ (مستدرک حاكم) ج١ص٤٨٠ رقم ٢٠٧١ (كشف الغمه)للاما م شعراني

(ترجمة)حضرت خارجه بن صلت(رض)وائى چه زه دنبي كريم صلى الله عليه وسلم:حضورته راغلي وم كله چي دنبى كريم(صلى الله عليه وسلم) څخه مي رخصت واخيست نو په لاره كي ديوتولګي خلګوسره مخامخ سولم چه په دوي كي يونفرليونى وواوپه زنځرباندي تړلي وودهغه ملګروماته وويل اياتاته ددى ليونى علاج نه دى معلوم ځكه چى ستاسو پيغمرخودي دنياته ډيرخيركثيرراوړى دى خارجه بن صلت وائى چه هغه مادرى ورځى په سورة فاتحى دم كى چه هرورځ به مى دوه وارى دمه وى الله(جل جلاله)هغه جوړكى،نوهغه كسانو ماته سل(١٠٠)پسونه راكړه كله چي زه نبى كريم عليه السلام ته راغلم نوهغه ته مي داكيسه بيان كړه نبى كريم عليه السلام ماته وويل چه ده سورة فاتحى څخه دي بل څه باندى وئيلي دي كيا ما ورته وويل چه نه بل څه مي نه دى باندى وئيلى بغيري

سورة فاتحی څخه نونبی کریم علیه السلام راته ووئیل چه ای خارجه بن صلت که چیری تاپه با طل دم باندی خوراک کړی وی نوهغه ښه کارنه ووتاخوپه حق دم باندی خوراک کړی دی ؟

(۲)عن ابی سعید الخدری(رضی الله عنه)قال بعثنارسول الله (صلی الله علیه) وسلم:ثلاثین راکباًفی سریة قال فنزلنا بقوم فسئلناهم القری فلم یقر نا ،فلدغ سید هم قال فاتونا فقالوافیکم احد یرقی من العقرب:قال:قلت نعم أنا ولکن لاأرقیة حتی تعطونا غنما،قال:فقالو:اِنانعطیکم ثلاثین شاة قال : فقبلنا ،قال،فقرأت علیه الفاتحة سبع مرات ،قال فبرأوقبضت الغنم،فعرض فی انفسنامنها شیئ ،فلا تجعلواحتی تأتوارسول الله (صلی الله علیه وسلم) قال:فلما قدمنا علیه،قال:فذ کرت له الذی صنعت، قال:أوماعلمت أنهارقیة، اقسموا الغنم،واضربولی بسهم (صحیح البخاری)ج۲ص ۸۵۵رقم۵۷۴۹ (ابوداؤد)ج۲ص۱۲۹رقم الحدیث ۳۴۱۷(مصنف ابن ابی شیبة)ج۵ص ۴۴۶ (مسلم)ج۲ص۲۲۴(مسنداحمد)ج۵ص۴۳۳رقم الحدیث ۱۱۰۷۰ (ابن ماجه)ص۱۵۶(تفسیرقرطبی)ج۱۰ص۲۷۵

(ترجمه):.حضرت ابی سعیدخدری(رض)وائی چه نبی کریم علیه السلام موږدیرش صحابه ووجهادته په یوه قافله کي واستولوموږیوکلي ته ورغلو دکلی خلګوڅخه مو طلب ده طعام وکي دکلی خلګوموږته طعام یعنی (ډوډی)رانه کړه دکلی مشرلړم وهلی ؤبیاموږته دهغودطرفه څخه یونفرارا غی اوراته ئی ووئیل چه په تاسوکی څوک ددم والا نسته حضرت ابی سعید خدری(رض) وائی چه ماورته ووئیل چه زه به ئی دم کړم لیکن په دي شرط چه تاسوموږته پسونه راکي هغوپه جواب کي راته ووئیل چه دیرش(۳۰)پسونه درکووابی سعید خدري (رض)وائی چه هغه لړم وهلي ماپه سورة فاتحی سره وه (۷)واری دم کي اوهغه دیرش(۳۰)پسونه موږ

ورځخه واخيستل دبعضوملګروپه زړه کي څه شک فيداسوملګروويل چه ډيرتلوار مه کوي په خوراکي ددغه پسوترڅوچه نبي کريم(صلى الله عليه وسلم)څخه مو پو ښتنه نه وي کړي کله چه دسفرڅخه واپس راغلو نونبی کريم عليه السلام،ته موداکيسه وکړه نبی کريم عليه السلام راته وويل چه پخپل مابين کی ئی تقسيم کي اوزمادپاره هم حيصه پکښی مقررکي ددغه حديث په تشريح کي ملاعالی قاری(رح)په مرقاة المفاتيح کي د امام نووي(رح)قول رانقله وي اووائی

(قال النووی رحمه الله،وهومن باب المروءات والتبرعات ومواساة الأصحاب والرفاق،وإلامجميع الشاة ملک للراقي...قاله تطييباًلقلوبهم ومبالغة في تعر يفهم أنه حلال لاشبهة فيه(مرقاة المفاتيح)ج۶ص۱۷۹رقم الحديث ۲۹۸۵ (شرح نووی على مسلم)ج۲ص۲۲۴

(ترجمه)وائی دغه شکرانه ټوله دهغه صحابي حق ؤ چه چا دم کړی ؤ لکن دانوروصحابه ؤته چه ده حيصه پکښی ورکړه داددہ احسان ؤاونبی کريم عليه السلام چه ورته وويل چی ماته هم حيصه پکښی راکه دائی دده دزړه دخوشحالی دپاره ورته وويل چي دده شک ووچی دابه راته رواوی اوکه يا (۳)عن قيس بن أبی حازم قال:أتی رسول الله صلى الله عليه وسلم رجل فقال:إنی رقيت فلاناوکان به جنون،فأعطيت قطيعا من غنم ،وإنمارقيته بالقران،فقال رسول الله(صلى الله عليه وسلم)من اخذبرقيه باطل فقدأخذت برقيية حق(مصنف ابن ابی شيبة ج۵ص۴۴۶

(ترجمه)حضرت قيس بن حازم (رض)وائی چه يونفرنبی کريم عليه السلام ته راغی اووئی ويل چه يارسول الله ماپه يونفرباندی دم وکی دقرآن په اياتوسره چه هغه نفرليوني ؤ،نوهغوماته يوڅه پسونه راکړل نبی کريم عليه السلام ورته وويل چاچی په غلط دم باندي څه واخيستل

نوهغه بنه ونکړه تاخوپه حق دم باندي اجورت اخستلي دي (۴)عن يعلى بن مرة،قال:خرجت مع رسول الله(صلى الله عليه وسلم)فى سفر حتى اِذاكنابعض الطريق مررنابامرأة جالسة،معهاصبي لها،فقالت:اِن اِبني هذابه بلاء،واصابنامنه بلاء،يؤخذفى اليوم لاأدرى كم مرة؟فقال:ناوليني، فرفعته اِليه،فجعله بينه وبين واسطة الرجل ثم فغرفاه ثم نفث فيه ثلاثا بسم الله أناعبدالله،اِخسِ عدوالله ثم ناولهاياه ثم قال:القينا فى الرجعة فى هذالمكان فأخبرينامافعل،قال:فذهبناثم رجعنافوجدناهافى ذالک المكان معها شياة ثلاث فقال:مافعل صبيک؟فقالت:والذى بعثک بالحق:ماحسسنامنه بشئ حتى هذه الساعة،فاجترزهذه الغنم،قال:انزل فخذ منهاواحدة وردالبقية)(مسنداحمد) ج۸ ص۴۰۱رقم الحديث ۱۷۸۲۲(مستدرک حاكم)ج۲ص۴۶۸ (مصنف ابن ابى شيبة)ج۵ص۴۴۶(سنن دارمي)ج۱ص۱۴رقم ۱۷ (مجمع الزوائد)ج۸ص ۴۰۱رقم ۱۴۱۶۰(دلائيل النبوة للبيهقى)ج۶ص ۲۲ رقم۲۲۶۰(ترجمه)حضرت يعلى بن مره وائى چه زده نبى كريم عليه السلام سره په سفركى ملګرى وم په لاره كي يوه بنځه ناسته وه ،اودهغى سره يوماشوم بچى وه هغى زناني نبى كريم عليه السلام ته وويل چه اى دالله رسوله داكوچني په يوي بلا(مرض)اخته سوي دي چه په يوي ورځى كي څووار ي داتكليف ورته پيښيږي نبى كريم عليه السلام هغى بنځي ته وويل داكوچني ماته راكه دى بنځى داكوچني ونبى كريم عليه السلام ته وركي ،نبى كريم عليه السلام ،دهغه كوچني په خوله كي داكلمات چوف كړه، (بسم الله اناعبدالله اخس عدوالله)اوبيائى هغى بنځي ته بيرته وركي اوهغي بنځي ته ئى وويل چه موږكله دسفرڅخه واپس سولونوموږته دخپل كوچني معلومات راكه يعلى بن مره وائى كله چه موږدسفرڅخه واپس سولونوهغه بنځه په هغه ځاى ناسته وه اوورسره درى(۳) پسونه وه نبى كريم عليه السلام ده كوچني پوښتنه ورڅخه وكړه هغي بنځي ورته وويل

چه اي دالله رسوله زما دي په هغه ذات قسم وي چه ته ئی په حق نبي رااستولي ئي دهغي ورځي څخه چه تادم پرکړي دي ترنن ورځی پوري مـوږ هيڅ تکليـف نـه دی محسـوس کـړي نوتاسـويوه مهربـانی وکـي اودادري(۳) پسونه واخلي نبی کريم عليه السلام يعلی بن مره ته وويل چه کښته سه اويوپسه ځني واخله اودانوردوه پسونه بيرته وروايس که اوامام بيهقي په روايت کي داسي هم راغلي دي چه ددي ښځي سره پنيراوغوړي هم وه نبی کريم عليه السلام ويعلی بن مره ته وويل چه يوپسه اوغوړی اوپنير ورځخه راواخله، مستدرک دحاکم وئيلي دي چه داحديث بلکل صحی دي ،علامه ذهبي هم دي حديث ته صحيح حديث وئيلي دي،اوابن حجرهيثمي هم په مجمع الزوائد کي دی حديث ته صحيح وئيلی دي (مصنف ابن ابي شيبة)ج۵ص ۴۴۶(دلائيل النبوت بيهقي)ج۶ص۲۲رقم ۲۲۶۰(سنن دارمي)ج۱ص۱۴ رقم ۱۷)مسنداحمد)ج۸ص۴۰۱رقم ۱۷۸۲۲(مستدرک)ج۲ص ۴۶۸رقم الحديث ۴۲۷۵ (مجمع الزوائد)ج۸ص۴۰۱رقم الحديث

۱۴۱۶۰(۵)عن جابررضی الله عنه،قال خرجت مع رسول الله صلی الله عليه وسلم ،فی سفرفاذانحن بامرأة قدعرضت لرسول الله صلی الله عليه وسلم،معها صبی تحمله فقالت يارسول الله صلی الله عليه واله وسلم،ان ابنی هذايآخذه الشيطان کل يوم ثلاث مرات لايدعه فوقف رسول الله صلی الله عليه واله وسلم،فجعله بينه وبين مقدمة الرحل فقال رسول الله صلی الله عليه واله وسلم،اخسأعدوالله انارسول الله صلی الله عليه وسلم،قال فاعادذلک رسول الله صلی الله عليه وسلم ثلاث مرات ثم ولهاياه فلمارجعنافکنابذالک الماء عرضت لناالمرأة معهاکبشان تقودهما والصبي تحمله فقالت يارسول الله صلی الله عليه وسلم،اقبل منی اهديتي فوالذي بعثک بالحق ان عادالیه فقال

رسول الله صلى الله عليه وسلم،خذوااحدهماوردوالأخر(دلائيل النبوت بيهقى) ج۶ص۱۹ صحيح الاسناد(ترجمه)حضرت جابر(رض)وائى چه زه دنبى كريم عليه السلام سره په سفركي ملگرى وم موږپخپل سفركى ديوى بنځي سره مخامخ سولوچه يو كوچني ماشوم هم ورسره وو:هغى بنځي نبى كريم عليه السلام ته وويل،اى دالله پيغمبره زما پدى كوچنى باندى روزانه درى(۳)وارى پيريان (جنيات)راځى اوډيرتكليف وركوي نبي كريم عليه السلام دهغي بنځى څخه هغه كوچني واخيست اودخپلي دابي دپاسه ئى كښى نوي اودرى واري ئى داكلمات باندي چف كړه (اخسأعدوالله،انارسول الله) اوبيائى هغى بنځى ته هغه كوچنى پلاس وركي:حضرت جابر(رض)وائى كله چى موږدسفرڅخه واپس راغلو هغه ځاى ته راورسيدلوهغه بى بى په هغه ځاى كي ناسته وه اودوه(۲)پسونه ورسره هم وه،نبي كريم عليه السلام ته ئى وويل چى زموږكوچني اوس بنه دي اوزماڅخه داهديه اوتحفه قبوله كه نبى كريم عليه السلام اصحابوته وويل چه دايوپسه ځنى راواخله اودابل بيرته وركه(دلائيل النبوت للبيهقي)ج۶ص۱۹

(تنبيه)

كه ديومسلمان مريض ددم په وجه الله شفاءوركى نوهغه مريض دمول اومسلمان وروروته فيده رسول دمسلمان يواسلامي فريضه ده (۶)عن جابر(رض) قال لدغت رجلامناعقرب ونحن جلوس مع النبى صلى الله عليه وسلم فقال رجل يارسول الله صلى الله عليه وسلم،روقية فقال :من استطاع منكم ان ينفع اخاه فلينفعه(مسنداحمد)ج۷ص ۳۲۷(صحيح ابن حبان ج ص رقم الحديث ۵۳۲(صحيح مسلم)ج۲ص۲۲۳ رقم الديث۲۱۹۹ (ترجمه)حضرت جابر(رض)وائى چه موږدنبى كريم عليه السلام،په

حضورکي ناست وٴچه يوصحابی لړم ووهل يوبل صحابی وويل چه ای دالله رسوله زه ئی دم کړم نونبي عليه السلام ورته وويل چه ديوچا څه تاقت وي چه يومسلمان وروړته فيده ورسولی سي نوفائده دي ورته ورسوي (مسنداحمد)ج۷ص۳۲۷(صحيح مسلم)ج۲ص۲۲۳رقم ۲۱۹۹(صحيح ابن حبان) رقم الحديث ۵۳۲ (مشکاة المصابيح)ص ۲۸۸کتاب الطب والرقی

(ديوی شبهي ليری کول)

بعضی وړنوته داسی شبه فيداکيږي چه الله (جل جلاله) په تقديرکي څه ليکلي وي هغه هتمي اوضروري کيږي نوبيادتعويذاودم کولوته څه ضرورت سته ددی شبهي دليري کولو جواب ډير اسانه اوساده دي ،دحضرت ابوخزامه پلارهم دنبی کريم عليه السلام څخه داسي پوښتنه وکړه چه اي دالله پيغمبره بعضی داسي دمونه دي چه موږمريضان په دمه وواوبعضی دواوي دی چه موږئی استعماله وونودم اودواالله په تقديري فيصله کي څه تغير راوستلي سي نونبي کريم عليه السلام ورته وويل چه دا دم اودواهم په تقديرکی ورسره ليکل سوی ده (عن أبي خزامة عن ابيه رضی الله عنه قال قلت يارسول الله أرأيت رقی نسترقيها،ودواء فتداوی به وتقاة نتقيهاهل ترد من قدرالله شيأفقال:هی من قدرالله (سنن ترمذی)ج ص رقم الحديث ۲۱۴۸(مشکاة)(مرقاة المفاتيح) ج ۱ص ۲۹۸رقم الحديث ۹۷ :تردغه حديث لاندي علامه ملا عالي القاري الحنفي (رح) ليکلي دي (يعني کماان الله قدرالداءقدرزواله بدواء(مرقاة)ج۱ص ۲۹۸رقم۹۷)

==========(دمنکرینودلائل اودهغوجوابونه)==========

دامنکرین حضرات وائی چه په دم اجرت اخستل ندی روادوی دخپلی مدعالپاره بعضی ایاتونه اواحادیث په استدلال کی پیش کوی اولنی ماخذ ددوی دا أیات کریمه دی(ولاتشتروابایتی ثمناقلیلاً)الایة سورةالبقرة)بنه خبره به داوی چه دذکرسوی ایات مبارک وضاحت دهغه مفسرینودتفاسیروپه رنړاکی وکړوکوم مفسرین چه ټوله دنیادهغوی فقاهت اوعلمیت ته قائیله دی اوهیڅوک ئی دعلمیت اوتقوی څخه سترګی نسی پټولی فخرالدین رازی ددی ایات په ذیل کښی لیکی اووائی

(واعلم ان المخاطبین بقوله (وامنوا)هم بنواسرائیل ویدل علیه وجهان الاول)انه معطوف علی قوله اذکروانعمتی التی انعمت علیکم کانه قیل اذکروانعمتی التی انعمت علیکم،وافوابعهدی وامنوابماانزلت(تفسیرکبیرج۱ص۴۸۳)

پوه سه مراد،ددی ایات څخه بنی اسرائیل دی اوپدی خبره دوه دلائل موجوددی اول:دلیل دادی چه(وامنوابماانزلت،الایة،)عطف دی په دی مخکنی ایت (تفسیرکبیرج۱ص۴۸۳)بنی اسرائیل په یوه لویه ګناه کی اخته وه چه دعلماؤ طبقی به په تورات کی دنبی کریم علیه السلام دصفاتو کومه وینا چه راغلی وه هغه به ئی پټول اوددی په مقابل کی به ئی دعوامو څخه ددنیامفادحاصلول قران دوی ددی نااوړه کارڅخه منعه کړه.چه داتحریف،اوکتمان حق مکوئ اود دی په بدل کی دنیاهرڅومره چه وی لږده مه ئی اخلی،صاحب دتفسیرطبری چه په سنه ۲۱۰ ه کی وفات دی دذکر سوی ایات تفسیر،اودابوالعالیه اوامام سدی،روایت پدی الفاظو سره خلاصه کوی.فتاویل الایة(اذالاتبیعواماتیتکم من العلم بکتابی وایاته بثمن

خسیس وعرض من الدنیا قلیل ـــــ وبیعهم ایاه ترکهم ابانة مافی کتابهم من امرمحمدصلی الله علیه وسلم،للناس وانه مکتوب فیه انه النبی الامی الذی یجدونه مکتوباً عندهم فی التورات والانجیل(تفسیرطبری ج۱ص۳۶۵)مراد دایت دادی چه تاسوته ماکوم دکتاب علم د رکی نوتا سو دخپلوریا ستونو او امارتونو دبقا لپاره دحق په مقابل کی دنیامه خوښه وئ اومقصد دخرڅولو څخه دادی چه دی بنی اسرائیلو به دنبی کریم علیه السلام،هغه صفات چه په تورات اوانجیل کی ذکر سوی وه هغه به ئی پټه ول اوپه بد ل کی به ئی دعوامو څخه دنیا وی مال اومتاع اخیستله(تفسیر طبری ج۱ص۳۶۵)اودغه رقم امام قرطبی پخپل تفسیرقرطبی شریف کی دذکر سوی ایات تفسیرداسی کوی(نهاهم عن ان یکو نوا اول من کفروان ألایأخذواعلی ایات الله ثمنًا ای علی تغیر صفه محمد صلی الله علیه وسلم رشیً وکان الاحباریفعلون ذالک فنهواعنه (تفسیر قرطبی ج۱ص۳۷۴) دبنی اسرئیل علماؤبه دنبی کریم علیه السلام،،صفات پټول اودعواموڅخه به ئی مال اومتاع حاصلوله نوالله (ج)ددی کارمنع وکړه (تفسیرقرطبی ج۱ص۳۷۴)

اودغه رقم علامه الوسی (رح)پخپل تفسیر روح المعانی کی ددی ایات تفسیر پدی شکل سره کړی دی (الاشتراءعن الاستبدال)په ایات مبارک کی چه اشتراء،لفظ راغلی دی نودامجازدی داستبداله څخه (تفسیرروح المعانی ج۱ص۳۳۱)

اوبیائی دبنی اسرائیلودعلماؤپه حقله داسی ویلی(وقدکانویأخذون کل عام شیئاًمعلوماً من زروع اتباعهم وضرعهم ونقودهم فخافواان بینوذالک لهم وتابعوه صلی الله علیه واله وسلم ان یفوتهم ذالک فضلواواضلوا(تفسیروح المعاني)ج ۱ص۳۳۲ (تفسیر خازن)ج۱ص۴۱)

دبنـــی اســـرائیلوعلماؤداعادت ووچـــه هغوبـــه هرکـــا ل د خپلواعوامـــو دفصلواومالو(پسـو) اونقدوپیسـوڅخه بـه ئـی څـه معینـه انـدازه اخیسـتله نوددوي سره دابیره وه کـه ودي عواموتـه دنبـی کریم علیـه السلام صفات اوپیغمبری بیان کړو نوعوام به دهغه تابعداره سـي اوزمورږدنیـاوي ریاسـت بـه خـتم سـي،نوددي وجهـي دوی حـق پـټ کـي نوخپلـه هـم ګمـراه سـول اونـورئی هـم ګمـراه کړه،پـه تفسـیرخازن کـي هـم ده روح المعـاني پشـان عبـارت موجودوونوپـدي خـاطرمورږده تفسـیرخازن عبـارت رانقـل نـه کړ (تفسیروح المعاني)ج۱ص۳۳۲(تفسیرخازن)ج۱ص۴۱

اودغـه رقـم قاضـی ثنـاءالله پـاني پتي(رح)پخپـل تفسیرمظهري شـریف کـي ددي ایات په تفسیرکي وائی

(ولاتشترواای لاتستبد لوابایاتي ای بالایمان بایات القران اولاتستبدلوابایات التـورات ببیـان نعـت محمدصـلی الله علیـه وسـلم ثمنًـاای عرضـامن الـدنیا قلیلاًفان اعرض الدنیا (تفسیر المظهري)ج۱ص۶۲:یعنی تاسي د نبی کریم علیه السلام،،دصفاتوپه پټولو سره دنیامه اخلي(تفسیرمظهري)

دذکرسووتفسیرودوضـــاحت څخـــه دامعلومـــه ســـوه چـــه دبنـــی اسرائیلوعلماؤدخپلومفاداتو لپاره په تورات کی دخپلـه ځانـه تحریف کـاوه اوحـق بـه ئـی پټـه وي اوقـران پـه ډاګـه دوی تـه دااعـلان وکـي ددي نـاوړه کارڅخه لاس واخلي اومنع سي قران داموضع ډیره تفصلي بیان کړي ده اوپه با ربا رئی ده هغه چا عمل غندلي دی چه څوک حق پټـه وي داوعید یوازی په بنی اسرائیلوپوري خاص نـه دي بلکـه پـه موجوده عصـرکي هـم که څوک داسی عمل وکي اودقرآن په احکاموکي تحریف وکـي اوحـق پـټ کي نودابه هم داسلام ددائري څخـه خـارج وی مورږغواړوچي دذکرسوی تفاسیروپه تائید کـي پـه صـریحی نصـوص اسـتدلال پیش کړواوداپـه قـران

ثابتـــه كـــو چـــه مـــرادد ولاتشـــتروا،،څخه كتمـــان حـــق اوتحريـــف دى.اودمنكرينواستدلال پدي ايات باندي بي ځايه دي

(١)ان الذين يكتمون ماانزلنا من البينت والهدى من بعدما بينه للناس فى الكتاب اولئيک يلعنهم الله ويلعنهم اللاعنون:سورة البقره:

هغه څوک چي حق پټوى كم حق چى مانازل كړي دي په دغه كسانوالله(جل جلاله) لعنت وائى اولعنت ويونكي هم لعنت باندي وائى

(٢)ان الذين يكتمون ماانزل الله من الكتاب ويشترون به ثمنًاقليلااولئيک مايأكلون في بطونهم الاالنار

هغه كسان چه حق پټوي هغه چه ماپه كتاب كي نازل كړي دي اوددي حق پټولوپه بد ل كي د نيا وي منافع خوښوي دغه كسان نه خوري مګرأور

(٣)واذااخذالله ميثاق الذين اوتوالكتاب لتبيننه للناس ولايكتمونه فنبذوه وراء ظهورهم واشتروابه ثمناقليلافبئس مايشترون؛؛سورة ال عمران

(ترجمه)اى پيغمبره هغه وخت دوى ته ورفياد كه كله چي ماد بني اسرائيلو دعلماؤ څخه په تورات كي داوعده واخيسته چه تاسوبه داحق خلګوته بيانه وي اوحق به نه پټوي نوده بنى اسرائيلوعلماؤحق پري بنوي اوپه عوض كي ئى د د نيا منافع خوښي كړي نوداډير بدعمل دي چه دوئ خوښوي

(٤)وان منهم لفريقايلون السنتهم بالكتاب لتحسبوه من الكتاب وماهومن الكتاب :سورة ال عمران

(ترجمه)پدی بنی اسرائیلوکي یوه ډله داسي هم سته یعني علماء چه دتورات په احکاموکي تحریف کوی اوعواموته وائی چه دادالله دطرفه څخه همداسي نازل سوي دي اوحال دادي چه دالله(جل جلاله)له طرف څخه داسي نه دي نازل سوي یعني داددوی محرف کلام دي::

داوه مختصروضاحت دهغه ایات چه په کوم ایات چه مخالفین دلیل نیسي دمنع اجورت په هکله هیله ده چه دمعریضینودشک لیری کولوپه حقله اکسیراعظم ګرځیدلي وي اوددي څوکلماتو په وئیلوسره دتعصب ځنځر مات کړي اودحق پرستوپه لمن کي داخل سي

دوهم مخالفین په بعضورواياتودمنع داجورت په حقله دلیل نیسی چه ددغه ټولورواياتو په حقله تفسیر قرطبي دصاحب نظردادي (واما لاحاديث فليس شيئً منهايقوم على ساق(تفسيرقرطبي)ج١ص٣٧٦)

وائی چه مخالفین داجورت دمنع په حقله په کومواحادیثودلیل نسي نوپدي کي هیڅ یوحدیث صحیح نه دي:بلکي ټوله احادیث ددوی ضعیف دي:صاحب دقرطبي داحکم دخپل ځان څخه نه دي کړي بلکي ددغورواياتوضعف اوکمزوری ئی په دلیل سره ثابت کړي ده اووائی واما حديث ابن عباس فرواه سعيدبن طريف عن عكرمة،وسعيدمتروک واماحديث ابی هريرة فرواه علی بن عاصم عن حماد بن سلمة عن ابی جرهم وابو جرهم مجهول لايعرف ولم يروحمادعن احديقال له ابوجرهم وانما رواه عن ابی المهزم وهومتروک الحديث ايضاًوهوحديث لااصل له واماحديث المغيرة بن زياد الموصلی عن عبادة بن نسی عن الاسود بن ثعلبة والمغيرة معروف عنداهل العلم ولكن له مناكيرهذامنهاقاله ابوعمر(تفسير قرطبی)ج١ص ٣٧٦)

صاحب دتفسیرقرطبی وائی چه مخالفین په کومواحادیثودلیل نیسی یوده عبادة بن الصامت حدیث دی داحدیث ضعیف دی ځکه چه ددی حدیث په سندکی مغیرة بن زیادموصلی راوی دی اوده ده څخه بعضی منکرروایت نقل سویدی چه داحدیث هم دهغه منکراحادیثوڅخه شمیرل کیږی

دوهم:.روایت دابوهریرة(رض)دی،دي حدیث په سندکی ابوجرهم دی اوابوجرهم راوی دمحدیثنوپه نزد مجهول دی.

دریم:.دلیل ددوئ حدیث دابن عباس(رض)دی دی حدیث په سندکی سعیدبن طریف دي اوسعید بن طریف ده محدیثنوپه نزدمتروک الحدیث دی.ددہ په احادیثواستدلال نه صحی کیږی(تفسیرقرطبی ج۱ص۳۷۶) اودغه رقم صاحب دروح المعانی ددی روایاتو په حقله داسی ویلی دی. (وقداستدل بعضی اهل العلم بالایة علی منع جوازاخذالاجرة علی تعلم کتاب الله والعلم.وروی فی ذالک ایضاً احادیث لاتصح وقدصح انهم قالوایارسول الله انأخذعلی التعلیم اجراًفقال ان خیرمااخذتم علیه أجراکتاب الله تعالی،وقدتظافرت أقوال العلماءعلی جوازذالک وان نقل عن بعضهم الکراهة ولادلیل فی الایة علی ماادعاه هذاالذاهب کمالایخفی(تفسیرروح المعانی ج۱ص۳۳۲)

ترجمه:.په تحقیق سره بعضی علماءپدی ایات دلیل نیولی دی چه دقران په تعلم باندی اجورت اخستل ندی رواوداحضرات دخپلی مدعادپاره داسی احادیث زکرکوی چه بلکل صحی ندی اودنبی کریم علیه السلام داجورت داخستلو درواوالی په حقله یوحدیث روایت سوی دی چه اصحابو دنبی کریم علیه السلام څخه پو ښتنه وکړه چه ای دالله پیغمبره ایامورږدقران په تعلیم اجورت واخلو،نبی کریم علیه السلام هغوته وویل چه بهترین اجورت هغه دی کم اجورت چه تاسوئی په قران اخلئ په قران باندی

داجورت رواوالی په حقله دعلماؤڅخه ډیرزیات اقوال نقل سوی دی اګرکه دبعضوڅخه دعدم جوازنقل سوی دی لیکن پته دي نه وي چه دمنکرینودپاره پدی ایات کی هیڅ دلیل نسته اوداجورت دنه رواوالي دپاره پدی ایات دلیل نیول نه صحی کیږی (تفسیرروح المعانی ج۱ص۳۳۲)

اوبله خبره داده چه داکوم علماءاوسادات تعویذاودم کوي اویاقاري دقرآن ختم دقرآن کوي دوی خوکم تعین شي نه په اخلي اوداخلګ ئي پخپل خواهش یوڅه ورکوي دارواوجائزدي په تفسرابن کثیراوتفسیرقرطبی کي لیکي اووائی؛

واذالم یتعین علیه فانه یجوزان یأخذعلیه اجرتًاعندمالک(رح)والشافعي(رح)واحمد (رح)وجمهورالعلماءکمافی صحیح البخاری عن ابی سعدالخدری(رض) قصة اللدیغ ان احق مااخذتم علیه اجرًاکتاب الله(تفسیرابن کثیر)ص۲۲۳(تفسیرقرطبی)ج۱ص ۳۷۶)

ترجمه:.کله چی دقران په تلاوت اوتعلیم اودم تعویذباندی څه خاص شی تعین نسی او پخپل خواهش ئی څه شی ورکړه نوداجائز اوروادی اوهمدامذهب دامام مالک(رح) امام شافعی(رح)امام احمد(رح)اوجمهوروعلماؤدی اودلیل وربانډی هغه حدیث دی کم چه بخاری دابوسعیدخدری(رض)څخه روایت کړی دی.

اودغه رقم په بدائع الصنائع اومجمع الأنهرکی وائی(اذااخذالمال من غیرشرط مباح له)(بدائع الصنائع ج۱ص۱۵۲) (مجمع الأنهر ج۲ص۴۸۴)(معارف السنن ج۲ص۲۴۲)اودغه رقم په الدرالمختارعلی هامش الردالمحتارکی وائی(استأجره لیکتب له التعویذ الاجل السحرجاز(الدرالمختارج۵ص۵۷)(مجمع الانهرج۱ص۳۸۴)

اودغه رقم امام طحاوی(رح)په شرح معانی الاثارکی لیکی اووائی

(ومن استجعل جعلا علی عمل یعمله لغیره من رقیة اوغیرهاوان کانت بقران اوعلاج اومااشبه ذلک فذلک جائزوالاستجعال علیه حلال(شرح معانی الاثارج۲ص۲۵۳)

اودغه رقم امام بدرالدین عینی(رح)په عمدة القاری کی دامام طحاوی قول رانقلـه وی وائی(ویجـوزالأجرعلی الرقـی وان کـان یـدخل فـی بعضـه القران)عمدة القاری ج۱۲ص۱۳۷)

ترجمه:.وائی چه پردم باندی اجرت(شکرانه)اخیستل روادی که څه هم په قران سره وی

اودغه رقم امام بدرالدین عینی(رح)په بل ځای کی لیکی اووائی چه په دم اجورت جائزاوروادی(وفیه جوازاخذالاجر)عمدة القاری ج۱۲ص۱۴۳)

اودغه رقم د(۴)مذهبو شریک کتاب الموسوعة الفقهیة کی لیکی اووائی (ذهب جمهورالفقهاءالی جوازاخذالاجرةعلی التعویذوالرقی والیه ذهب عطاءوأبو قلابة وابوثوروالسحاق واستدلوبحدیث أبی سعید الخدری(رض)الموسوعة الفقهیة ج۱۳ص۳۴)

ترجمه:.وائی چی پرتعویذاودم اجورت(شکرانه)اخیستل جائز دی اودلیل ئی هغه مخکی حدیث دی (الموسوعة الفقهیةج۱۳ص۳۴)

(تتمه)

په اخیرکی بایددومره ووایوچی ټول قران دروحانی اوجسمانی امراض لری کولو دپاره یوه بهترینه نسخه ده هرمسلمان بایدپدی یقین وکړی اودقران تلاوت دتبرک په شکل دخپلو مشکلاتو لیری کولو دپاره یوازینی زریعه وګرځوی اوهغه څوک چی دقران په ایاتو مریض دمولواوتعویذلیکلوڅخه یومسلمان منعه کوی اوخپله دانګریزانوپه لاس جوړه سوی دواءباندي اعتماداویقین کوی نو یقيني ددی مسلمان په ایمان کی کم زورتیا ده

نبی کریم علیه السلام داسی خلګوته داسی ښراکوی(من لم یستشف بالقران فلاشفاه الله)تفسیرروح المعانی ج۱۵ص۱۸۵)(تفسیرکشاف ج۲ص۵۰۷)(تفسیرروح البیان ج۵ص۲۳۱)

ترجمه :.وائی چاچی خپله شفاءپه قران سره تلب نه کړه نوالله (ج)دی دهغه شفاءنه کوی تفسیرروح المعانی ج۱۵ص۱۸۵) (تفسیرکشاف ج۲ص۵۰۷)(تفسیرروح البان ج۵ص۲۳۱)

نواوس دابنه واضحه اومعلومه سوه چی تعویذلیکل اودم کول اوپرتعویذاودم باندی اجورت(شکرانه)اخیستل رواوجائزدی څه بدی پکښی نسته البته کوډی کول دوه کسان سره جلاکول اوهلوکان انجونی پیداکول اویاپه زیمه واری تعویذونه کول اویادنورونارواه کارو دپاره تعویذ کول ډیرسخت ناروا اوحرام کاردی داولیاؤاوښوخلګورنګ داسی کوډ ګرانو وربد کړی دی اودعلماؤرنګ بیادابی مذهبه اخوندانووربدکړی

دی والله اعلم تحریرفی تاریخ۱۴۴۱\۵\۱۴\

المکتبة الهاشمیه